SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

دریم کال دري څلوېښتمه ګڼه پرله پسې (۱٤۳) یکشنبه د۱٤۱۹هق کال ربیع الاول (۱۲)د۱۳۷۷هـ ش کال دچنګاښ دمیاشتې (۱٤) د۱۹۹۸میلادي کال د جولاي (٥)

حکـــم شرعي قــصاص بالاي دو تن قاتل تطبيق گـــرديد

حکم شرعي قصاص بالاي دو تن قاتل در محضر هزاران تن از شهريان شهر غزني تطبيق گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش ميدهد دراجتماع بزرگي که بهمين مناسبت در نزديکي زيارت سنايي صاحب ترتيب شده بود محترم ملا يار محمد والي ولايت غزني، محترم ملا عبيد الله اخند قوماندان فرقه ١٤ غزني، محترم مولوي محمد شفيق، روساي محاکم، مسوولين ادارات و جمع کثيري از شهريان غزني شرکت ورزيده بود.

ابتدا آياتي چند از کلام الله مجيد قرائت گرديده بعداً چند تن از مسوولين در رابطه به تطبيق حکم شرعي بالاي قاتلين مستند به آيات قراني صحبت نمودند.

اسامي محمد نبي فرزند غلام نقشبند مسکونه قريه نکيردت ولسوالي قره باغ ولايت غزني که خودش هم کمونيست بود و در دوران رژيم کمونيستي سيد محمد فرزند جمال الدين را بقتل رسانده بود.

و اسامي وحيد الله فرزند يار محمد مسکونه مرکز غزني که فريبا پنت روزي خان خالم خويش را بشکل ظالمانه بقتل رسانيده بود متهمين در محکمه ولايت غزني بدون جبر و زور به جرم خويش اعتراف نمودند.

دوسيه تسيلي متهمين توسط محترم مولوي محمد حسن رئيس مرافعه ولايت غزني قرائت گرديد.

حکم محاکم بعد از منظوري عاليقدر اميرالمؤمنين بالاي متهمين تطبيق و متهمين در محضر عام قصاص گرديدند.

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا(پرهیزګاری) ته .

(سورة المائدة)

د صوفي شاعر، غلام نبي «عشقري» د مړيني نولسمه کليزه ونمانځل شوه

د غوره شاعر، صوفي غلام نبي عشقري د مړيني نولسمه کليزه په دې وروستيو وختو کې ولمانځل شوه.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي : په هغه غونډه کې چې له همدې امله د حضرت تميم انصار «رض» په جومات کې جوړه شوې وه د قرآن عظيم الشان له ختم وروسته دده سوانح او د شعرونو تموني څو تنو اديبانو او د شعر د مينه والو له خوا ولوستل شوې ورپسې د عرفان او تصوف پر شمير خاوندانو د صوفي عشقري قصيدي او شعرونه ولوستلې. د هېواد غوره شاعر ارواښاد صوفي عشقري چې ډېر عمر يې د شعر د ويلو په ډګر کې تېر کړي ده شعرونه يې له لوړو افکارو او غوره انديښنو ځخه ډک دي چې د تصوف اديبان او د شعر مينه وال هر کال هغه لمانځي

په لوګر کې د افغانستان بانک د نمایندګۍ د ودانۍ د بیا جوړولو کار پیل شو

د لوګر ولايت د افغانستان بانک د نمايندګۍ د ودانۍ د بيا جوړولو کار د يوې غونډې په ترڅ کې پيل شو.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي : په هغې غونډه کې چې له همدې امله جوړه شوې وه د لوګر ولايت کفيل محترم مولوي محمد سرور حقپرست او د افغانستان بانک دريم مرستيال په وار سره په هېواد کې د عام المنفعه تاسيساتو د بيا جوړولو په خاطر د افغانستان د اسلامي امارت د اقداماتو په باب خبرې وکړې.

او د اسلامي شريعت په چوکاټ کې يې د بانکي چارو د ښه تنظيم غوښتنه وکړه. د لوګر ولايت د افغانستان بانک د نمايندګۍ د ودانۍ د بيا جوړولو کار چې د تيرو رژيمونو د جنګونو له امله ويجاړه شوې وه د مرمر د سرک جوړولو ساختماني شرکت له خوا پيل شو.

مسابقات ورزش واليبال همه روزه جريان دارد

به سلسله مسابقات ورزشي واليبال مدارس شهر کابل مسابقات واليبال در جمنازيوم لیسه اماني بين شش تيم صورت گرفت.

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش ميدهد : در نتيجه اين مسابقات تيم واليبال مدرسه علم فيضي زاده بر تيم واليبال مدرسه حبيبيه غالب ، تيم واليبال مدرسه عبدالهادي داوي برتيم مدرسه محمود طرزي و تيم واليبال مدرسه نادريه بر تيم مدرسه انصاري برنده گرديدند.

اين مسابقات همه روزه بين تيم هاي واليبال مدارس شهر کابل ادامه دارد.

يکتن سارق دستگير گرديد

يکتن سارق توسط موظفين حوزه اول امنيتي ازمربوطاتشهرکابلدستگرگرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد اسامي غلام فرزند محمد اسمعيل مسکونه ولسوالي شکر دره ولايت کابل که مبلغ يك مليون و يکصد هزار افغاني را از نزد محمد مقيم فرزند محمد اسمعيل مسکونه کلو له پشته سرقت نموده بود توسط موظفين حوزه اول امنيتي بالفعل دستگير گرديد.

قضيه تحت بررسي بيشتر قرار دارد.

د عاليقدر امير المؤمنين د فرمان له مخې :

د جيدو علماو لخوا د هېواد د مروجو قوانينو د څېړلو کار پيل شو

د عاليقدر امير المؤمنين د فرمان له مخې اساسي قانون او په هېواد کې نور مروج قوانين د هېواد د جيدو عالمانو له خوا د يوې غونډې په ترڅ کې وڅېړل شو.

په دې غونډه کې چې د قاضي القضات او د ستري محکمې د رئيس محترم الحاج مولوي نور محمد ثاقب په مشرۍ جوړه شوې وه وروسته له هغه چې د کلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شول محترم قاضي القضات او د ستري محکمې رئيس د اسلامي شريعت په چوکاټ کې د قوانينو د طرحې او نافذولو او د اسلام د مبين دين د اساساتو سره سم د پخوانيو قوانينو د څېړلو په باب خبرې وکړې د ټولنيز عدالت د تامين او د اسلامي شريعت د بشپړ تطبيق په لاره کې د اساسي قانون او نورو قوانينو ارزښت او ځانګړتيا بيان کړه .

اساسي قانون او د هېواد د نورو نافذو قوانينو څېړل چې د عاليقدر امير المؤمنين د فرمان پر بنسټ تر سره کېږي د هېواد جيدو عالمانو ته بلنه ورکړې شويده چې د خپلو ارزښتناکو انديښنو او تجربو له مخې دغه قوانين په مسؤولانه توګه وڅېړي او د هغو نتيجې ډېر ژر د افغانستان د اسلامي امارت مقام ته وړاندې کړي .

د قرآن عظيم الشان د تلاوت سيالي تر سره شوه

د قرآن عظيم الشان د تلاوت د هڅوني سيالي د کابل ښار د ځه د پاسه سلو جامع جوماتونو د طالب العلمانو تر منځ وشوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي : په دغې غونډې کې چې له همدې امله د وزير اکبر خان په جامع جوماتونو کې جوړه شوې وه وروسته له هغې چې د کلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شول د حج او اوقافو وزارت معين محترم مولوي محمد مسلم حقاني د قرآن عظيم الشان د فضيلت او د طالبانو تر منځ ددغه شان ديني سياليو د جوړېدو د ارزښتونو په باب خبرې وکړې او د هېواد د اولادونو په وړاندې يې د مدرسينو دندې او مسووليتونه ځرګند کړل .

د قرآن عظيم الشان د لوستلو سيالي چې څه د پاسه د سلو جوماتو د طالبانو تر منځ وشوه د قرآن عظيم الشان د طالبانو د د استعدادونو دودې په خاطر د حج او اوقافو وزارت له خوا جوړه شوې وه په دغې غونډې کې سوغاتونه هم په طالب العلمانو وويشل شول.

د کندهار پوهنتون رئيس محترم مولوي بخت الله صاحبزاده له شريعت اوونيزې سره په مرکه کې :

کندهار پوهنتون په ۱۳۷۰ هـ ش کال تأسيس شويدی چې د شر او فساد په دوره کې بند وو او د اسلامي تحريك له بريا وروسته بيا فعال شو

د شلو تنو پاکستانيو په شمول ټول ۳۵۰ تنه محصلين لرو چې ۲۰۰ تنه يې ليليه دي

کندهار پوهنتون وداني نه درلوده چې د عاليقدر امير المؤمنين له هدايت سره سم اوس ددې پوهنتون لپاره د مکملې ودانۍ د جوړولو د کار بهير په بېړه روان دی

درنو لوستونکو!

زمونږ خبريال په کندهار کې د کندهار پوهنتون له رئيس محترم مولوي بخت الله صاحبزاده سره ددې پوهنتون د څرنګوالي او وضعيت په اړه مرکه کړېده چې لوستلو ته يې ستاسو پام را اړوو .

پوښتنه : مهرباني وکړې د شريعت اوونيزې لوستونکو ته ځان معرفي کړې ؟

ځواب : زما نوم مولوي بخت الله صاحبزاده د ملا کريم الله صاحبزاده زوی د زابل ولايت د ناوې د ولسوالي د زيارت د کلي اوسېدونکی يم او د اتش نفس ملا محمد باز صاحبزاده د نوراني کورنۍ سره اړيکي لرم لومړني زده کړه مې له خپل پلار او د مسجد له امام ځخه کړي وروسته په انقلاب کې پاکستان ته مهاجر شوم او هلته مې د مسلم باغ په کمپ کې خپل تعليم ته دوام ورکړ او باقي تعليم او تحصيل مې په کوټه، کراچي او لورالايي کې سرته رسولي د تحصيل په جريان کې څو کرته جهاد ته راغلی وم او د شهيد ملا صدد اخند سره مې جهاد کړېدي . او د طالبانو د اسلامي تحريك په رانګ سره د خپل ايماني مسؤوليت په اساس او احساس د همانه لومړيو شپو ځخه مو جهاد شروع کړې دي لمړي بولدك کې وم هلته د يو ګروپ طالبانو مسؤوليت هم را په غاړه وو کله چې کندهار په الهي نصرت فتح شو د تحريك د مشرانو په هدايت د نيمروز ولايت ته د ګمرك د مسؤول په حيث وروسته د امير المؤمنين د حکم سره د کندهار پوهنتون د رياست وظيفه را په غاړه شوه .

پوښتنه : د کندهار پوهنتون د تأسيس د کال او تاريخي پس منظر په هکله معلومات راکړې ؟

ځواب : د کندهار پوهنتون د لمړي ځل لپاره د ۱۳۷۰ هـ ش کې د روس د لاسپوڅي رژيم په وخت کې تاسيس شوی چې وروسته يې بيا سقوط کړې وو .

پوښتنه : د کندهار په پوهنتون کې د محصلينو شمير څو تنه دي او اکثره يې په کومو ولاياتو پورې اړه لري ؟

ځواب : اوس په پوهنتون کې د ۳۵۰ تنو ځخه زيات محصلين په تحصيل بوخت دي او په دې کې د افغانستان د ټولو ولاياتو خلك له هرات ځخه نيولي تر تورخم پورې شامل دي له دوې پرته مونږ سره د شل نفرو په شاوخوا کې پاکستاني محصلين هم شامل او په تحصيل بوخت دي .

پوښتنه : د کندهار پوهنتون د

څلورم مخ

بلند ترين مرد جهان وفات يافت

علم چانا بلند ترين مرد جهان از اثر مريضي کليوي در يك شفاخانهٔ نيويارك وفات نمود.

علم چانا تبعه پاکستاني که چهل و دوسال عمر داشت به مصرف حکومت پاکستان جهت تداوي به ايالات متحده امريکا اعزام گرديده بود. موصوف در ۱۹۸۰ با بلندي دو صدو سي و يك اعشاريه هفت سانتي متر بلند ترين مرد در جهان محسوب گرديد.

اخيراً گفته ميشود که نصير سومرو يك تبعه ديگر پاکستان اين لقب را کمايي ميکند.

دکتوران اظهار ميدارند : نصير سومرو که هفده سال دارد و قد موجوده اش دو صدو بيست و سه اعشاريه پنج سانتي متر ميباشد روز بروز بلند تر شده ميرود.

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

نيکمرغه ميلاد

په اسلام کې بختوري ورځې ډېرې دي مګر د ميلاد النبي«ص» د نيکمرغي ورځې اهميت اساسي او بينسټيز دی ځکه چې په دغه بختوره ورځ د هغه پاك پيغمبر «ص» زوکړه (زيږنده) شوې ده چې هغه په ترږميو کې ايسار و بنياد مانو ته د ايمان رڼا راوړه، ايمان هغه بې قيمته جوهر او پانګه ده چې له ابدي دوزخ نه د ژغورنې او ابدي جنت ته د ننوتلو ايکې يوازيني سبب دی بل سبب بيخي نه لري، په اسلام کې چې نورې بختوري ورځې دي د هغوي ښيګڼې او اهميت له ايمان ځخه وروسته معلومېږي ؛ له دې امله د افغانستان اسلامي دولت پرېکړه وکړه چې له دې نه وروسته به د پوځې او ملکي دولتي کارکوونکو ترفيعات او په هغه پورې تړلي کارونه په دغه بختوره ورځ پورې تړلي وي .

هوا د کايناتو سر او سردار، پر مومنانو رؤف او رحيم پيغامبر«ص» انسانانو ته د ايمان او اسلام هغه دولت راوړ چې ټول کاينات يې بيه او بدل نشي کيداي خو له بده مرغه هغو انسانانو چې په دغه بې ساري دولت عزتمن هم شول پر دا وروسته پيړيو کې يې د ايمان او اسلام مزې سخت او مړې شو، پرې کيدو ته ورسيده ان تر دې چې ځينو يې نعوذ بالله د ايمان دولت په لغته وواهه مرتدان شول او ځني نور

دوهم مخ

په دشت برچي کې د ماشومانو د لوبو پارك پرانستل شو

د ماشومانو لپاره د لوبو پارك د دشت برچي په سيمه کې پرانستل شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي : دغه پارك چې د دري زرو تنو ماشومانو لپاره د لوبو ځاي لري د ماشوم د ساتنې د موسسې له خوا د پنځه اويا مليونو افغانيو په لګښت جوړ شوی دی چې د سيمې د ګڼ شمير اوسېدونکو او د دغه موسسې د رئيس ښاغلي کرت جوزم په ګډون د يوې غونډې په ترڅ کې پرانستل شو او د استفادې وړ وګرځېد .

د زابل ولايت د کرنې د رياست وداني جوړه او فعاله شوه

د زابل ولايت د کرنې د رياست وداني جوړه او فعاله شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي : د زابل ولايت د کرنې د رياست وداني چې د تير رژيم د جنګونو له امله ويجاړه شوې وه ددغه ولايت د مسوولينو د هلو ځلو له امله جوړه او د يوې غونډې په ترڅ کې د ګټې اخستنې وړ وګرځېده .

شریعت

دتاسیس کال	: ١٣٧٤ هـ ش
	: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسوول مدیر	: الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال	: ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي گڼې بیه	: په هیواد کي (١٠٠٠٠) افغانۍ په پاکستان کي (٣) کلداري
پوست بکس	: (٤٧١) تیلفون: ٢٠٠٧٥
په پیښور کي	: دطالبانو نمایندګی تیلفون: ٨٤٤٣٣١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٢٧
جاري حساب	: ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانک مرکز
چاپ	: دولتی مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

تش په نوم مومن او مسلمان پاتې شول چي اوس د ایمان او اسلام په ضد د اسلام د دښمنانو د لاس لوبتکه دي - انا لله و انا ...

ددغو مصیبتونو په تورو لوخړوکي بیا هم - الحمد لله- داسي د غیرت رښه ستوري پیدا شول چي د ایمان او اسلام په تنګه بې ملا وتړله، د قربانۍ او شهادت میدان ته بې ورودانګل، په لکونو شهیدان بې ورکړل مګر د اسلام توغ بې هسک او رپانده وساته او لا لګیا دي قرباني ورکوي تر څو دغه مقدس بیرغ هسک او رپانده وساتي ؛ ددغو ستوریو، بو ښه مثال د افغانستان مسلمان او با تور مجاهدین دي چي د هغه وخت د شوروي د اوو او اوښلو تر باران لاندي ودریدل او سخته رسوا او بو مخیزه ماتي بې ورکړله له هغه را وروسته بې بیا د طالبانو د اسلامي تحریک په مخکښي د شر او فساد، د کمونیزم پاتي شونو او ملحدو ځواکونو لاس د مظلومو او ځورول شویو مسلمانانو له ګروي او ګریوان څخه تر ډیره حده وکیښل او لا لګیا دي ددغه سپیڅلي هدف لپاره بې د بې ساري قربانیو بې دریغه بهیر روان کړي دي، هیله ده چي د الله تعالي په فضل او رحمت د میلاد د نیکمرغي ورځي په برکت سره دغه پاتي مظلوم او مجاهد هیواد وال د ملحدو ګلم جمانو، د کشتمند ملحد دسیه ډلو او بې رحمه ملیشو او د شر او فساد د ډلو له شر نه وژغوري؛ که د اسلامي دولت په مجاهدینو د الله تعالي هغه ابتلا، نه واي راغلي کومه چي د مزار شریف له لومړي فتحي سره جوخته راغله نو اوس به د الحاد ، شر او فساد بیخ او بنسټ پاتي نه ؤ، د الله تعالي تقدیر ؤ چي د کمونستو ګلم جمانو دوکه د کشتمند کمونستو ملیشو(حزب وحدت) او د دوي د بادارانو شیطاني عملي او فریب سره بو ځای شول چي په سلګونو د اسلامي تحریک سپیڅلي طالبان او مجاهدین یکښي شهیدان او اسیران شول او لا اوس بې هم بې رحمه کمونیستان په بوه او بله بهانه شهیدان کوي انا لله و انا ...؛

موږ د میلاد النبي «ص» د نیکمرغه ورځي په برکت الله تعالي ته عرض کوو چي دغه سخته ابتلا د رسول الله«ص» پر حسبي اولاد (سپیڅلو طالبانو مجاهدینو) او ټولو مسلمانانو هیوادوالو باندي اسانه، په عفو او مغفرت بدله کړي . موږ په دي موقع د اسلامي امارت مخالفینو ته په ډاګه وایو چي د افغانستان د مظلوم او بیچاره ولس په ژوند او برخلیك نوري ملنډي ونه وهي او له دي خطرناکي لوبي څخه لاس واخلي ځکه چي الله «ج» به اخر ددي ځوریدلي ملت اواز واوري او فتح همیش د حق په برخه وي او دا له امکان نه لیري خبر نده چي الله به اخر هم بوه ورځ د شر او فساد ټغر د سپیڅلو طالبانو په لاس ټولوي او بیا به دا مجرمین د همدي ولس لخوا په ډیر ذلت او اهانت سره د محاسبي میز ته را کشول کیږي او د دوي د اعمالو حساب به ورسره کوي.

د متحدي جبهي بله سوړه

د خبرونو له مخي جنبش بوه بله سوړه کړي، د جنبش مرستیال نسیم مهدي پر دوستم د مخدره موادو د قاچاقبر او تروریست نوم پوري کړي او د بوي ځانګړي ډلي جوړیدل بې اعلان کړي دي .

دغه خبرونه وروسته له هغي خپاره شول چي په شمال کي د متحدي جبهي پهلوانان په اصطلاح پر بوي ګډي ستراتیژي د بحث لپاره راغونډ شوي وو خو ددي پر ځاي چي پدي اړه څه نوي لاسته راوړني خپلي کړي شي له نویو کړکیچونو سره مخامخ شول.

نسیم مهدي، نړیوالو خبري اژانسونو ته ووبل چي جنرال دوستم دده د وژلو پلان درلود او غو ښته ترورستان بې دده پر کور د برید لپاره استخدام کړي وو چي بو تن بې تري نیولي هم دي .

نسیم مهدي په دغه حمله کي د خپلو دوو تنو دوستانو د وژل کیدو خبر هم ورکړ . نسیم مهدي د خپلي ډلي نوم جنبش اسلامي ابتي ښایي، سبا بل سبا ددغه نوم نور هم مختصر شي او بواځي جنبش پاتي شي. دا هم امکان لري لکه د خلق د موکراتیك ګوند لمړي مخ په وطن ګوند واوړي.

نسیم مهدي په ر دوستم نور تورونه هم ولګول چي ده ملي او جهادي شخصیتونه ترور کړي او ملي اسلامي جنبش بې له خپل اصلي او ټاکلي مسیر نه خارج کړي دي. ځکه خو موږ مجبور شو چي بو نوي غورځنګ جوړ کړو چي له ټولو ډلو سره به نیکي اړیکي لري.

بیرك کارمل چي له بو نیم لك روسي لښکرو سره کابل ته راوستل شو نو ورته د ثور انقلاب بشپړتیایي پړاو ووبل شو، په امین نور پوري شو چي ده د ثور انقلاب له خپل اصلي او ټاکل مسیر نه لیري کړ ځکه خو د امپریالیزم د نوکري تاپه پري ولګول شوه.

تحجب چي د بیرك پر ځاي کیناست د ثور انقلاب ته بې د «ثور بدلون» نوم ورکړ او د خلق د موکراتیك ګوند بې د وطن پر ګوند واړاوه .

نسیم مهدي د جنرال دوستم د جنبش اصلي او ټاکلي مسیر په ګوتونه کړ چي هغه څه رنګ ؤ، ده دا هم څرګنده نه کړه چي جنرال دوستم کله له دغه اصلي او ټاکلي مسیر نه کوږ شوي دي.

که د جنبش اصلي مسیر دا ؤ چي لومړي د جبل السراج ائتلاف بلا په وطن را کوزه کړي، بیا د هم غږي شورا مصیبت نه لار پرانیزي او وروسته د متحدي جبهي د تاتار ټغر وغوړوي نو دا کار خو بې په صادقه ټاکلي او اصولي مسیر کي تر سره کړ د چور تالان او لوټماري سابقه بې وګټله او د استاد رباني صلاح الدین او د حکمتیار صاحب شهاب الدین شو ،

مجددي صاحب خو پر اوږو کیناوه، آخر مهدي له جنرال دوستم نه نور څه غواړي ؟ پدي لږ موده کي چي بو ځوك د ملیشي د بو ګروپ له قوماندانۍ ستر جنرالي او ... نه رسیږي د باچا ولیعهد او شهزاده شي لدي زیات به اصلي او ټاکلي مسیر کي حرکت نور څه نه وبل کیږي؟ که بل ځوك په اېولو کي هم الوتلي واي دغسي مدارج او مقامات بې په دومره چټکتیا نه شواي وهلي.

له مهدي سره په دقسه نوي ډله کي جنرال مالك هم ملګري دي د مالك په وینا پر مهدي هغه مهال د وژلو ناوړه قصد شوي چي ده د رسول پهلوان د څو وبي کلیزي په

پټې پاڼې

شهرت ننګیال

غونډه کي د برخي اخیستو تیاري نیوله، ښایي جنرال دوستم د رسول پهلوان له کلیزي سره د بوي بلي کلیزي اضافه کړله او دغه لړي بې جاري ساتله .

ښاغلي حکمتیار په کندوز کي د مسعود له ترورستانو وژغورل شو او ایران ته ورسید، داسي ښکاري لکه چي اوس بې بو ځل بیا د مسعود د چاري هوس کړي وي او ورته ویلي بې وي چي دا دي تیښته نر ویښته غاړه نري، ځکه نرمه غاړه چاړه هم نه پریکوي.

مهدي د ښاغلي حکمتیار پخوانی قوماندان دي، دوي دواړه له ناوړه قصدونو

د ژغورلو منتر بوخ کړي که نه نو له مسعود او دوستم نه چا روغ ساعت نه لیدلي.

که بله ورځ حکمتیار صاحب ادعا وکړي چي په جنبش کي انشعاب دده برکت او دیپلوماسي وه او نسیم مهدي بې د ستوري جنبش نه ورایستلی ؤ، ناشوني نه ښکاري- لکه د تیسي بوه ادعا چي د هم غږي شورا په جوړیدو دده له خوا وړاندي کړي شوه، مجددي صاحب چي دوستم نه ستر جنرالي ورکړه و بې ویل چي پر دغه کار بې د افغانستان د تجزیې مخه ونیوله، حکمتیار صاحب چي د هم غږي شورا کي له دوستم سره ائتلاف وکړه دریغ بې دا ؤ چي د هیواد د تجزیې امکانات بې شنډ کړل . سږي حیران شي چي دوستم کومه د «سبازول» ګولۍ ده چي هر چاته بې ضرورت او د هر ربخ دارو دي ؟

حکمتیار صاحب تر دي دمه چوپ دي، پنهه خوله اقرار ګڼل کیږي ځکه پدامنی خالانو کي چوپتیا دده د مزاج منافي عمل دي.

مهدي د دوستم مرستیال ؤ ډیرو ښاغلو ته حیرانونه له همدي مرستیالانو پیدا شوي ځکه خو بوه هوښیار مرستیال درد سر بالله.

واښي ائتلافونه ډیر ژر له منځه ځي ، د ائتلاف او انتلاف تر منځ ډیر لږ توپیر دي ځکه خو واښي چي ائتلافونه پیدا د ائتلاف لپاره وي دشمال ائتلافونه هر بو پر بل پسي تلف او پرباد شول ، ښایي اوس بې د پردي شیانه اصلي چلوونکي او شوریستان هم بې حوصلي او تنګ شي او په وازه کومي له خپله بخته دا ګیله وکړي چي بو ځاي دي ګنلم بل را چیرلي ،

د حضرت محمد «ص» شخصیت د غربي مؤرخینو په نظر

محقق محمد شریف ځدران

د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد ﷺ اسلامي ، سیاسي، ټولنیز او فرهنګي شخصیت بوازي د اسلامي نړۍ د تایید او احترام ور نه دي، بلکي د غربي نړۍ د بو شمیر نومیالیو پوهانو او مؤرخینو د تایید او احترام ور هم ګرځیدلای دي. د غو غربي مؤرخینو د حضرت محمد ﷺ د شخصیت بیلا بیل اړخونه څیړلي او روښانه کړي دي چي د هر مسلمان له پاره د افتخار وړ دي، که څه هم موږ ته دا افتخار لوي خداي«ج» څه د پاسه ځوارلس سوه کاله پخوا را بخښلي دي، خو بیا هم د خپل پیغمبر حضرت محمد ﷺ په باب د دوي سیکو نظریو ته هر کلي کوو او عقیده لرو چي د اسلام او د اسلام د ستر پیغمبر ﷺ لاره بوه الهي او د حق، عدالت ، ترقي او د بشر دوستي لاره ده چي ان د غرب د بو مشهر مؤرخینو د تایید او ستاینې ور ګرځیدلي ده .

د غربي مؤرخینو له ډلي څخه بو هم

جان ناسي دي، چي په خپل اثر « تاریخ جامع ادیان» کي د حضرت محمد ﷺ د شخصیت په باب لیکي : « د خلقت له وخته راهیسي بوه سلسله پیغمبران د خداي تعالي د پیژندلي په لاره کي د انسانانو د لارښوونې له پاره مبعوث شوي دي. چي د هغوي له ډلي څخه ستر پیغمبران ابراهیم«ع» موسی «ع» او عیسي «ع» دي خو تر ټولو دغو پیغمبرانو وروستي او تر ټولو ستر پیغمبر حضرت محمد ﷺ دي چي خاتم الانبیا بې لقب دي او هیڅ بو پیغمبر د علم او حقانیت په برخه کي د هغه لوړ مقام او منزلت ته نه شي رسیدای او هیڅ بوه پیغمبر هم د حضرت محمد ﷺ په شان دوحي مجموعه او آسماني کتاب نه دي راوړي.

د غربي نړۍ بو بل نامتو لیکوال ویل دورانت د خپل اثر « تمدن تاریخ» د بوولسم ټوك په ٢١ مخ کي لیکي : که موږ په خلکو کي لوي والی د بوه ستر سړي د موثریت او اهمیت په تله وتلو نو ښایي ووایو، چي

حضرت محمد ﷺ د تاریخ له لویانو څخه خورا ډیر لوي دي. ځکه چي هغه زیار وایست چي د خپل قوم د معنویاتو او اخلاقو ساحه لو سطحه پراخه او لوړه کړي چي د هوا له تودوخي او د صحرا له وچوالي څخه د وحشت په تورو لړوکي ورک ؤ . په دغه مناسه کي هغه د ټولو مصلحانو په پرتله زیاته کامیابي وګټله او بوازیني شخصیت و چي خپلو هیلو ته د دین له لاري ورسید. او د صحرا د تیت پرکو او دښمنو قبیلو څخه بې بو واحد ملت جوړ کړ . دغه راز داکتر ګوستا و لوبون په خپل اثر « د اسلام او عربو تمدن» کي لیکي : د عربستان مملکت د جاهلیت په عصر کي له څو کوچنیو ولایتونو او د بو شمیر خود سرو قبیلو څخه چي په خپلو منځو کي به بې تل جنګونه کول عبارت و ، خو د بوي پیړۍ په اوږدوکي د حضرت محمد ﷺ د بعثت له جریان سره ددغه دین لمنه د سند له سیند څخه نیولي تر اندلس پوري پراخه شوه او ددغو هیوادونو په ټولو برخو کي د اسلام سرغ

ورپول شو او له هره پلوه د ترقي او پرمختګ داسي سیوري پیدا کړل چي عقل ورته حیران وي ... دا خو ځکه چي د اسلام دین د ژوندانه له اصولو سره ښه برابر او توافق لري.

پراس ورت سمیت په خپل اثر «محمد او مسلمانان» کي لیکي : زه په کامل جرأت سره اعلان کوم چي بوه ورځ به د مسیحیت خورا عالي فلسفه او زیاته پوهنه پیژندنه، اصول تصدیق کړي او په دي خبره به ایمان راوړي چي محمد ﷺ حقیقي پیغمبر او د خدای«ج» له جانبه و دغه راز نور تور تور لیکي : محمد ﷺ د سلیم عقل خاوند او پاك انسان و او زه له غواړم د هغه ستاینه وکړم . خو له بلي خوا دا هم نه شم کولاي چي هغه نابغه ونه بولم او بل غربي مؤرخ ګیب وایي: محمد د نغ احساس له لاري نه - بلکي د سوله ییزو تدبیرونو له لاري دیسلام تابع کړل او خپل ځان ته بې راوبلل. دا کارېو له هغو استادي طرز العملونو څخه و چي هغه به خپل تبوغ سره ترې استفاده کوله.

د بریتانیکا دایرة المعارف انګریزي مؤرخین لیکي : محمد بوازي دیني شخصیت نه و بلکي سیاسي او اجتماعي رهبر هم شو او له هغه وروسته بوځي قوماندان هم وګرځید. هغه لومړني فاتح چي محمد په ... ځوړ مخ

په محمدي مدرسه کي ښځینه ښوونه او روزنه

محقق ساهره «ځدران»

د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد ﷺ زوکړه او د الله «ج» لخوا د پیغمبري په دنده باندي د دوي مبعوث کیدل، نړیوالي بشري ټولني ته د سعادت ، رحمت، اسلامیت او انسانیت د وروری او همکاري ترقي او علم بو بې شانه زیري و نړیوال په یاد لري چي د اسلام د رانګ څخه مخکي عربو خپلي لوڼي ژوندي په خاورو کي ښخولې او د هیڅ ډول انساني حقوقو اړونکي نه وي، خو دا د اللدج» بې ساري او لوي رحمت او چي د عربستان په خاوره کي بې اسلام او د اسلام ستر پیغمبر ﷺ د بشر په خدمت کي کړل. او بي شکه د اسلام د پیغمبر په توګه د

ﷺ ټاکل بو الهي رحمت و ، لکه چي الله «ج» فرمایي :و ما ارسلناك الا ... »

ددغه الهي رحمت په رڼا کي و چي د عربو او د مسلمانانو نړۍ مظلومي ښځي له بوازي له ښخولو او هر راز نوزیر څخه خلاصي شوي، بلکي د ژوندانه په ټولو برخو او په تیره بیا د ښوونې او روزني په برخه کي د مساوي او بشپړه حقو څښتني شوي. اللدج» د

اسلام ښځو ته لوستلو او علم سره کښود او حضرت محمد ﷺ ته بې لومړي په لوستلو امر وکړ او د علم او قلم لوړي او اهمیت بې ور په ګوته کړ، لکه چي فرمایي : « و لوله د خپل رب په نوم سره چي د ټولو پیدا کوونکي دي او انسان بې د وینې له ټکي څخه پیدا کړي دي . ولوله ستا لوي کریم دي کوم چي علم بې وښودلو په قلم او وبې ښودلو انسان ته

هغه څه چي دي نه پري پوهیدلو » العلق ١ - ٥ -

همدا رنګه الله«ج» د خپل نازولي استازي حضرت محمد ﷺ له لاري ټولو مسلمانانو ته پاک مرسته او زیاتوالي وغواړي برخه کي له مانه مرسته او زیاتوالي وغواړي او لکه چي فرمایي : « ووایه اي ربه زما زیاد کړه علم زما » د طه سوره ، ١١٤ آیت . دغه مبارک آیت مطابق هره مسلمانه ښځه

له لوي خداي«ج» نه د پوهي د زیاتوالي او د بې زده کړي غوښتنه کولاي شي او انشاء الله د ښووني او روزني په برخه کي به د هري مسلماني ښځي روا هلي ځلي بې لسره پاتي نه شي. ځکه لوي خداي«ج» له مسلمانانو سره وعده کړي او لکه چي فرمایي : « بیا قبوله کړه د دوي د عبادت د دوي، چي زه نه ضایع کوم زیار د زیار کیوونکو څخه سړي وي او که ښځي ، ناسي به خپلو کي یو یاست» ، د ال عمران سوره ، ١٩٥ آیت .

همدارنګه د ال عمران د سورت په دویمه رکوع کي الله«ج» د بوهانو مقام دومره لوړ ښودلی، چي لومړي خپل نوم او بیا د فرشتو نوم او په دویمه درجه کي د علم د خاوندانو

نوم راوړي. د ال عمران سوره ١٨ آیت ، دغه الهي مقام کومه مسلمانه ښځه نه غواړي ؟ بي له شکه هره پوهه او د علم لیواله او مسلمانه ښځه دا مقام غواړي او بابه چي په دي لاره کي هلي ځلي وکړي . دا مقام بوازي د ناریته بو ډیاره نه دي بلکي د ښځو له پاره هم دي او د اسلام په تاریخ کي اللدج» دغه شان مقام د حضرت محمد ﷺ میرمنې بي بي عایشي ته ورکړی ؤ .

حضرت ام المؤمنین بي بي عایشي صدیقې «رض» ، ٢٢١٠ حدیثونه روایت کړیدي او د حضرت ابو بکر صدیق، حضرت عمر او حضرت عثمان«رض» د خلافت په زمانه کي بي د قاضي او مفتي په ځلور مخ

رنگ امکان

مخمس بر غزل حضرت بیدل
محمد عبدالحمید «اسیر»

اي خوش آن حسنیکه رویش مهرتابان ریختند / و ز سواد تار موي او شبستان ریختند
بهر عرض مقدمش در جسم ها جان ریختند / آنکه از بوي بهارش رنگ امکان ریختند

گرد راهش جوش زد آثار امکان ریختند

بود عالم پیش از آغاز ظهورش چون سراب / نه فلك بود و نه چرخ و نی مه و نی آفتاب
رحمت حق جوش زد حسن ازل شد بی حجاب / شاهد بزم خیالش تا درد جیب نقاب

آرزو ها شش جهت یك چشم حیران ریختند

پرتو حسنش چو در آفاق عرض جلوه داد / از هجوم عشق شوري در همه عالم فتاد
هوشیاران جهان بر آستانش سر نهاد / تادم کیفیت مجنون او آمد بیاد

سینه چاکان ازل صبح از گریبان ریختند

هر که از آن لعل نوشین جام مي در شیشه کرد / در ضمیرش میتوان مهرو محبت ریشه کرد
تا نفس باقیست باید عشقبازي پیشه کرد / آسمان زان چشم شهلا چشمکي اندیشه کرد

از کواکب در کنارش نرگستان ریختند

پرتو فیض حضورش همچو مهر تابناك / میدمد در ساغر و مینا و در صهبا و تاك
ساکنان درگهش را از سیه روزي چه باك / حیرتي زد جوش از آن نقش قدم در طبع خاك

تا نظر واکرد بر فرقش گلستان ریختند

نور ها شد مقتبس از پرتو انوار او / کیست تا فهمد زبان معني اسرار او
پهن شد هر سو سحاب فیض رحمت بار او / از هواي سایه دست کرم دربار او

ابر ها در جلوه آوردند و باران ریختند

فیض انوار حضورش شامل هر خار و خس / رحمت عالم جز او نبود بعالم هیچکس
ذات پاك مصطفی شد باعث ایجاد و بس / طرفي از دامانش افشاندند هستي زد نفس

ور خرامش یاد کردند آب حیوان ریختند

از کرم آن ذات بیچوني چو کرد ایجاد صنع / داد با نور جهانتاب محمد داد صنع
بود این مضمون ز درس معرفت ارشاد صنع / غیر ذاتش نیست بیدل در خیال آباد صنع

هر چه این بستند نقش و هر قدر آن ریختند

میلاد مسعود خاتم النبیین ﷺ

استاد گل احمد «یما»

دوازدهم ربیع الاول مصادف با سالروز میلاد فخر کاینات خاتم المرسلین حضرت محمد (ص) میباشد .

مسلمانان سراسر جهان این روز را گرامي میدارند وبا یادآوري از آن یکبار دیگر به حیات آن مبارك متوجه میشوند و به رهبري و پیشوایي وي معترف گردیده وبه عنوان آخرین پیامبرکه دین بشریت را مکمل نمود. ایمان خود را ابرازمیدارند.

حیات حضرت خاتم النبیین براي مسلمانان همانند حیات افراد عادي نیست بلکه نمونه یی از حیاتي است که همه امت پیامبر اسلام باید آنرا به عنوان الگو ونمونه قراربدهند.

پیامبر بزرگ اسلام نه تنها عقاید مسلمانان را با وحي که براي شان مي آمد، با فطرت نزدیك ساخت ، بلکه با فعالیتهاي سیاسي و رفتار اخلاقي خود ودرخانواده ودر جامعه نمونه یي از حیاتي است که خداوند میخواهدهمه کساني که به خدا و خاتم النبیین ایمان دارند باید آن را نمونه قرار بدهند وآگاهانه بر آن عمل نمایند.

جهاد مسلمانان براي تثبیت راه خدا وراه پیامبر در کشور ما یکبار دیگر دقت در حیات پیامبر را به صورت جدي مطرح میکند وآن بخشي از امت را که تا هنوز به نام خدا وپیغمبر قیام کرده اند،اما در عمل راه طاغوت، راه ابوجهل و راه ابولهب راگرفته اند هوشدار میدهد تا به خودآیند وبگذارند که شیوه، محمدي در رفتار مسلمانان و جامعه ما تحقق یابد ، زیرا مسلمانان فقط با تحقق روش محمدي است که میتوانند به سعادت دنیوي و اخروي برسند.

پیامبر اسلام ویارانش جز به خدا به هیچ زورمند طاغوتي سر تسلیم فرو نمي آوردند ، هیچگاه به خاطرکسي وقدرت با هم در نمي افتادند وهیچگاه جزبا اخلاق نیك در میان خود رفتارنمي نمودند.

هر مؤمن ومسلمان باید بر اساس آن افکار ، اندیشه و رفتار خود را در راه خدا و تحقق جامعه اسلامي عیار سازند.

د حضرت سرور کاینات نیکمرغه میلاد

د پوهیالي لیلما «یما»
لیکنه ژباړه

د اسلام ستر پیشوا حضرت محمد ﷺ بن عبدالله (۵۷۰)م کال د ربیع الاول د میاشتي په دولسمه نېټه د عبدالمطلب په کور کښي وزیږېد چې له حلوېښت کاله یا عقته او پاك ژوند څخه وروسته د دُنیا د تاریکیو د پاره رڼا شو او د جهالت پردې خداي «ج» د همدي خالص بنده په وسیلي سره د اسلام په دیوه روښانه کړي او د بشري فرهنګ او فکر په پراختیا کښي یې لوی انقلاب راوست.

د حضرت پیغمبر وجود لوی خداي د رحمت للعلمین په نامه یاد کړي دي نو ریښتیا خبره هم دا ده چې د اسلام د دین په راتلو سره د حق او باطل تر منځ کرښه را ښکله شوه او دا دوي لارې سره جلا شوې هغه خوك چې د یگانه خداي «ج» په لاره کې د اسلام تر بیرغ لاندې راټول شول هغوي د انساني تمدن او مدنیت چې د اسلام اساسي اصول تشکیلوي رهبران او د بشریت د تکامل د کاروان سالاران شول او عالم بشریت یې له بربریت څخه د مدنیت، د ظلم څخه د عدالت او د جهالت څخه د علم په خوا راوباله او د لوي خداي ابدي رحمت یې د خپل ځان د پاره وګاټه . مګر هغه چا چې له دې روښانې لارې څخه انحراف وکړ او د باطل لاره یې ځان ته ونیوله هغوي د خداي د رحمت څخه بې برخې شول او د همېشني هلاکت په کنده کښي ولوېدل.

معني دا شوه چې د اسلام فلسفه د دنیا او د اخرت نیکي لري په دنیا کښي به مسلمان په عزت کښي اوسي او څوك چې خپله ژوند په دنیا کښي د اسلامي اصولو په بنا تېر کړي نو ضرور به د عقبي دپاره هم په کښي توښه برابر ولاړ شي، دا چې انسان د کومي توښي سره سفر وکړي نو په مشکل به اخته نشي ، نو زموږ ستر پیشوا موږ ته هغه څه راوړي دي چې که موږ هغه د دنیا او عقبي دپاره په ښه توګه په کار واچوو نو دي چې مسلمانان به هم په دې لرې کښي به عزت کښي اوسي او هم به په هغه جهان کښي. او دا اسلامي امت ډېر لوړ امتیاز دي په نورو امتونو باندې چې هغوي دا امتیازات نه درلودل. نو دا مسلمان دپاره ضروري خبره ده چې د حضرت سرور کاینات د نیکمرغه میلاد را رسیدو په مناسبت یو وار د خپلو اعمالو حساب له ځانه سره وکړي چې د حق په لاره روان دي او که یې د باطل لاره نیولې ده .

طلوع نور در افق ظلمت

احمد ضیا "شریفی" .

سال (۵۷۰م) آنگاه که زمین خدا را ظلمت عام فرا گرفته بود ، ستم باره گي و خود کامگي ، جهل ، زر و زور ، استبداد و بیداد ، محرومیت ها و مظلومیت ، زنده به گور کردن دخترها ، پرستش خدایان متعدد، سایه، سیاه و وحشتناك خود را بر کره، ارض گسترده بود : در چنین اوضاع و احوالي چه کسي مي تواند جرأت کند که در برابر این همه نا بسامانیها بپا ایستد و خدایان نادرست شان را تکذیب کند و از این همه بدبختي ها نجات شان دهد . هیچ کس: مگر کسي که به خدایان خود ساخته ایشان ایمان نداشته باشد به جز خداوند یکتا و لا شریك . او کسي است که تا گهان در صحراي خشك و پر تف و سوزان حجاز آنجائیکه جز شعله هاي سواج و سوزان آفتاب کویر، طوفان هاي هراس انگیز و تند باد هاي وحشي، چیزي را و کسي را راه نیست و کسي را از وجود این سر زمین سوزان خبري نیست ، موجودي از بطن آمنه پا به آن صحراي تشنه و سوزان میگذارد و دیده به جهان طوفانهاي وحشي جهل مي گشاید .

آه ! چه جهاني که مملو از شرك، مظلومیت ، محرومیت، عیش ها و شهوتراني ها ، مشرکین چون ابو جهل ، هند ، ابو لهب و ... خدایاني چون خداي باد، خداي باران ، خداي آفتاب، خداي آتش و ... میباشد.

کیست که این دنیاي زشت با رنگهاي نازیباي آن را با تمام خدایان و اربابان و نظام هاي مقتدر چون امپراطوري خونخوار و خشن و مستبد روم و ایران، ویران سازد ؟ و تحول بزرگي در جهان هستي در همه ابعاد زندگي انسان و در نقشه جهان به میان آرد .

آري این موجود خجسته محمد ﷺ است یتیم عبدالله، که واقعاً میلاد میمون آن پیام رحمت، سعادت، عدالت ، تقوي و طهارت براي همه انسانها بود.

کودك را طبق معمول اعراب جهت پرورش به حلیمه دختر ابي ذویب از طایفه بني سعد دادند و حلیمه او را به بادیه برد و تا پنجساله گي در نزد خود نگهداشت .

محمد ﷺ پنجساله بود که به دامن مادر بازگشت و شش سال داشت که مادرش را از دست داد .محمد ﷺ محروم از مهر پدر و نوازش مادر به سوي جدش عبدالمطلب پناه برد ، دو سال بعد جدش نیز مي میرد و سرپرستي او به کاکایش ابوطالب واگذار میشود.

در دوازده سالگي با ابوطالب با کاروان تجارتیکه به شام میرفت سفر مي کند و بحیرا راهب مسیحي او را در راه مي بیند و در او آثار رسالت آینده اش را مي خواند ، محمد ﷺ مدتي بهاین شغل مصروف بود.

چندي بعد ابو طالب از سفر دست مي کشد و محمد ﷺ تازه جوان چوپان مي شود و گوسفندان خویشان و دیگر مردم مکه را مي چراند چنانکه خود به این معني گوید : «هیچ پیغمبر نبوده است که شباني گوسفندان نکرده باشد و من در «قراریط» براي مردم مکه گوسفند مي چراندم. »

خدیجه دختر خویلد زن ثروت مند از خاندان مشهور قریش بود از محمد ﷺ که به امین شهرت یافته بود دعوت مي کند با دو برابر مزد براي وي تجارت کند . محمد ﷺ که تهي دست است با رغبت شغل جدید را قبول میکند و مدتي به این شغل مصروف میباشد .

خدیجه که از لیاقت و امانت داري محمد ﷺ راضي است بواسطه نفیسه دختر منیه، دوست خود، تمایل خود را نسبت به محمد مطرح میکند. محمد ﷺ این درخواست خدیجه را بعد از مشوره با کاکایش ابو طالب قبول میکند و خدیجه به همسري محمد در آمد . که در این وقت حضرت محمد ﷺ ۲۵ سال داشت .

از او دو پسر یافت (قاسم و عبدالله) که قبل از بعثت داعي اجل را لبیك گفتند و چهار دختر (زینب، ام کلثوم، رقیه و فاطمه)

حضرت محمد ﷺ سال یکمرتبه یك ماه را در غار کوه حرا میگذشتاند و به عبادت ذات اقدس الهي مي پرداخت .

چهل سال از عمر محمد ﷺ میگذرد و مرد پخته، شده است که در یکي از شبها در غار حرا بازگشت ، اندکي نشست و باز لحظه هایي به خود اندیشید و به انتظار نا شناخته، که در خود احساس مي کرد افسرده و درد ناك از اینکه چیزي هست و او نمي یابد، به خواب رفت. ناگهان از خواب بلند شد مثل اینکه کسي گلویش را مي فشرد و دو باره رها میکند و صداي مرموزي را استماع میفرماید که میگوید :

بخوان!

- نمي توانم بخوانم

- و باز چنان گلویش را فشار میدهد که احساس مرگ میکند ، رها میکند و باز همان صدا :

- بخوان!

- نمي توانم بخوانم ، من که خواننده نیستم .

- و باز تا حد مرگ گلویش در فشار قرار میگیرد و رها مي شود و باز همان صدا :

- بخوان!

- چه بخوانم!

- بخوان بنام پروردگارت که آفریدگار است ...

تمام شد، همه هستي یکباره ایستاد و سکوت گرد محمد ماند و غار و آرامش و تنهایي.

آري اولین ملاقات دو دوست به این صورت انجام پذیرفت و محمد چوپان رسالت و ماموریت خویش را از سوي آن دوست مطلقش باز یافت و بدین ترتیب به دعوت مردم به سوي حق آغاز نمود.

به مردم میگفت : به شما خبر میدهم که عذابي سخت در انتظار شماست خداوند مرا مأمور کرده است که شما را از آن بیم دهم، من شما را به پرستش خداي یگانه که شریك ندارد و خداي مطلق است دعوت مي کنم چیزي نميَ خواهم جز بگوئید لا اله الا الله ...

ولي مشرکین جاهل دعوتش را نمي پذیرفت به او دشنام میداد و مورد استهزا اش قرار میدادند.

آري! دعوت را این چنین آغاز مي کند، زمان شکنجه ها و آزار ها فرا میرسد ، مبارزه سخت و دشوار است . زمان هجرت اول یارانش و بعد هجرت دوم فرا میرسد و به دعوت خود به سوي حق در محیط هجرت بدون هراس ادامه میدهد و به مسلمانان وعده میدهد که به زودي آنان نه تنها بر مکه و شبه جزیره عرب بلکه بر امپراطوري هاي ایران و روم چیره مي شوند و پرچم اسلام را در تمام جهان به اهتزاز در مي آورد.

منافقان و مشرکان به او مي خندیدند و تمسخر میکردند که چه حرفهاي بزرگي میزند.

چندي نگذشت که این منافقان و مشرکان متوحش و حیرت زده مي بینند که ادعا هاي این مرد بزرگ به تحقق پیوست ، مکه فتح شد، شبه جزیره زیر پرچم اش آمد و امپراطوري روم و ایران به دستان پر توان مجاهدین راه حق سقوط کردند و کلمه توحید جهان را در زیر سایه دل انگیز و روح افزاي خویش قرار داد : مشرکان و منافقان خجلت زده و شرمگین شدند.

سال یازدهم هجرت فرا رسید غبار غم آلودي بر فضاي مدینه چیره گشته و اندوه گنگي بر حجاز سایه افگنده بود. جان یاران راستین را درد جانکاهي تا معلوم مي آزرد. دلها ملتهب بود و روانها آشفته، اندیشه متحیر بود و سینه ها گداخته و چشم ها گویي در انتظار فاجعه لحظه شماري داشتند.

آري پیامبر اکرم ﷺ در بستر مریضي خفته است، اصحاب و یاران دسته دسته به عیادتش مي روند، گرد وجود شریفش حلقه مي زنند و بیاد سالهاي گذشته حسرت میخورند و اذهان یاران خاطرات صحنه هاي مبارزه و جهاد و دعوت به سوي حق را تداعي میکند.

اصحاب و یاران میروند و او در بستر وداع آرامیده است از سفر خویش راضي است؛ اما از سرنوشت امت مي سوزد ، تنها اندیشه، که روح آرامش را بیقرار میسازد فرداي امت است که پس از او چه خواهد شد !

، ام المومنین عایشه صدیقه و فاطمه مطهره «رضي الله عنها» ، ملتهب و بیقرار اند میریزند و شیون میکنند و فغان سر میدهند . دق الباب میشود فاطمه صدا میزند ما را تنها گذارید، تکرار میگردد باز هم تکرار. اینبار آنحضرت ﷺ به فاطمه اش خطاب میکند :

دخترم بگذار بیاید این همان کسي است که بدون اجازه وارد خانه ها مي شود ولي تنها از حرم من اجازه ورود مي خواهد .

فریاد فاطمه به هوا بلند مي شود و گریه اش آرام نمي گردد. چه که او اینك دختري است که بهترین پدر را از دست داده است . نه تنها پدر بلکه بزرگترین حامي و پشتیبان و قویترین تکیه گاهش را از دست داده است .

بعد از رحلت آنحضرت ﷺ ، حضرت علي «رض» وظیفه غسل را به انجام رسانده و اداي نماز جنازه حضرت ابو بکر صدیق «رض» سپرده مي شود بالاخره به اثر مشوره یاران برگزیده و اتفاق صحابیان کبار آنجناب ﷺ در داخل مسجد نبوي در حجره ام المومنین عایشه صدیقه «رض» دفن میگردد .

درود بیکران بر روان پاك سردار عالم محمد رسول الله ﷺ .

به مناسبت میلاد حضرت محمد ﷺ

محمد عبدالعزیز «مهجور»

اي خاتم نبوت و اي ذات مصطفی / اي سرور دو عالم واي تاج انبیا
قرب اله مقام تو و عرش منزلت / اي در صفات حق همه چون ذات کبریا
والّیل موي دلکش و گیسوي عنبرت / والشمس صورت تو پر از نور مرحبا
عطر وجود تست که گل ناز مي کند / بلبل درود و نعت تو گوید به صد نوا
وصف تن شریف تو بالاتر از صفات / غرق کدورتیم چه گوئیم از ابتقا
ادریس در زکتاب تو داود گشت / آدم طفیل نام تو یعقوب از قفا
عیسي بن مریم از نفست زنده گرده است / جان دگر دمانده به اجساد مرده ها
موسي به کوه طور سراغ تو مي گرفت / نظاره سوخت طاقت آن مرد با خدا
یوسف ز حسن خوب تو شد شهره زمین / خوبان طفیل تو چه در خاك و در سما
یاران با صفاي تو سرداران حق بود / صدیق اکبر آئینه الفت و وفا
فاروق اعظم است ستون بناي شرع / رونق گرفت دین تو زین مرد با صفا
از شرم آب میشوم از وصف آنجناب / عثمان که یار سوم و دیباچه، حیا
صبح ولایت از افق آسمان دمید / در شهر فضل باب علوم است مرتضی
این مصطفی نشسته بدامان آسمان / رنگین بخون نموده شهیدان کربلا
دین تو روشنایي هر با بصیرت است / خاك درت بر چشمه خورشید توتیا
میلاد با سعادت ذات محمد«ص» است / گفتا در زمین و زمان پرتو خدا
جان و تنم چه تحفه که سازم نثار تو / عالم فداي نام تو هر یك جدا جدا
باد صبا بگوي به آن سرور رسل / اي دستگیر عالم و آدم مدد نما

«مهجور» را ز خاك درت بهره، بده
دور از حریم کوي تو افتاده ام ز پا

واقعات مهم در حيات آنحضرت ﷺ

مرتب کننده : ل . ي

(١٢) ربيع الاول مطابق (٥٧٠) ميلادي، ميلاد مسعود آنحضرت ﷺ.
سال (٥٨٢)م سفر آنحضرت ﷺ با ابو طالب عم او به طرف شام
سال (٥٩٥) ازدواج آنحضرت ﷺ با بي بي خديجه کبرا .
سال (٦١٠) م (١٢) ربيع الاول قمري بعثت آن حضرت ﷺ به نبوت
سال (٦١٣) م دعوت کردن آشکارا مردم به دين مبين اسلام .
سال (٦٢٢)م هجرت پيغمبر ﷺ از مکه به مدينه که مبدأ تاريخ هجري مسلمانان ميباشد.
سال اول هجرت مطابق (٦٢٣) م آذان گفتن آغاز شد و در بين مهاجرين و انصار پيمان برادري عقد گرديد .
سال دوم هجرت (٦٢٤) غزوه بدر
سال سوم هجرت (٦٢٥)م غزوه احد
سال چهار هجرت (٦٢٦) م غزوه بني نضير
سال پنجم هجرت(٦٢٧)م غزوه خندق و غزوه بني قريظه
سال ششم هجرت (٦٢٨) م فرض شد حج به حيث يکي از آرکان اسلام
در همين سال حضرت پيغمبر اکرم ﷺ قصد حج عمره کرد و هم قرار داد حديبيه عقد گرديد و از طرف به پادشاهان کشور هاي ديگر نماينده اعزام شد.
سال هفتم هجرت (٦٢٩)م فتح خيبر و فتح فدك وهمچنان اداي عمره قضايي
سال هشتم هجرت(٦٣٠) م غزوه موته و غزوه ذات السلاسل، فتح مکه و غزوه حنين
سال نهم هجرت (٦٣١) م غزوه تبوك که آخرين غزوه آنحضرت ﷺ است
سال دهم هجرت (٦٣٢) م حجة الوداع که آنحضرت ﷺ با جمع کثيري از صحابه از مدينه به قصد حج کردن به مکه رفتند.
سال يازدهم هجرت (٦٣٣) به روز (١٢) ربيع الاول به عمر ٦٣ ساله گي از دنيا رحلت نمودند
درود بر روان پاك آنحضرت ﷺ

د حضرت محمد "ص" د بختور ميلاد په مناسبت

ستا په راتلو نبي

ملا اسد الله «حنيفي»

مـاني شـوي نيـاري د جـهـالت سـتـا په راتلو نبي
ړنګي شـوي مـاڼي د ضـلالت سـتـا په راتلو نبي
ټولېـتان نسکور شـول مشرکينو سهي ماني شولي
بلي شـوي ډيوي د عـدالت سـتـا په راتلو نبي
سـتـا په پيدايښت د انسانيت زمـزمي پيل شـوي
لور په لور سري کي سـعـادت زمـزمي پيل شـولي
ته وي سـتـا جـمـال و چي جـهـان يې کـړ رڼا رڼا
سـتـر تحـول راغي احـديت زمـزمي پيل شـولي
زړونه په تـکل شـول چي د حق پلوته وخـوځي
ړنګه کـړي د نيـاد بربريت جـونګړي وسـوځي
پـريـږدي د بـاطـل پـلو د حـق پـلو تـه ودانګـي
وراني بتـخـانې کـړي د وحـشـت مـخکـښـان وځـپي
نور د وحـدانيت دي په راتلو سـره رونبـانه شـو
شـمـې د حق بلې شـوي باطل ترينه سـتـوصـانه شـو
لوړي شـوي شـعلي د احـديت د کـهکشـان په لور
حق په زمـزمـو شـو وسـپـيـده تر خـرامـانه شـو
خـلاصي دروازي سـتـا په راتلو د رحـمـتـونو شـوي
مـحـوه هر پلوته ترګـمـي د وحـشـتـونو شـوي
کـور د عـبـدالله ته دي چي نور په بلـيـد و شـو لو
وايي «حـنـيـفي» ګـرانه حـبـقل د نورو زړونو شـوي

اطلاعيه ستره محکمه

ستره محکمه امارت اسلامي افغانستان در نظر دارد تا بخاطر بلند بردن سطح علمي قضات محاکم ولايات کشور پروگرام تعليم قضايي را در مقر ستره محکمه تدوير نمايد.
بناً به اطلاع تمام رؤساي محاکم مرافعه ولايات کشور رسانيده ميشود تا از هر ولايت دو نفر قضات بر حال و مورد نظر شانرا الي تاريخ ١٦ ربيع الاول ١٤١٩ هـ ق مطابق ١٩سرطان ١٣٧٧ هـ ش به منظور شرکت در پروگرام تعليم قضايي معرفي نموده به مقر ستره محکمه اعزام نمايند.

د حضرت محمد «ص» شخصيت د ...

مدينه کي منځ ته راوړ د هغه متن لا اوس هم شته او هغه دده سياسي نبوغ راښيي، دغه راز فرانسوي مؤرخ هنري دوکاستري ليکي : په داسي حال کي چي د اسلام پيغمبر د خپل امت او شريعت له پاره د سواد او زده کړي کلکه توصيه کوي او هغه د تر او ښځي له پاره يوه فريضه بولي، خو په خپله نالوسـتي و او دا ځکه چي په دې کې هم د خداي«ج» ستر حکمت او معجزه وه .

کار لايل وايي : دغه د صحرازوي په خپل سپيڅلي او ژور ره کي، په خپلو نافذو او نورو مشرګو ککي، په خپل تولنيز او ستر روح کي، د جاه طلبي او خود خواهي څخه پاك وو او هر ډول سپيڅلي افکار يې له ځانه سره لرل، په خپل سپيڅلي او پياوړي روح سړي حقايق لټول، حضرت محمد ﷺ په په خپله ويل د په هغه مغزو کي چي فکر، تحقيق او څيړنه نه وي د يوه بي روحه جسم مثال لري» يا به يې ويل د فضيلت په عمل کي دي نه په شتوکي» يو بل عيسوي محقق جان ډيون پورت ليکي : د حضرت محمد عظمت دده د لوړو اخلاقو په شورځنګ، نبوغ او قوي اراده کي نغښتي و دده په شخصيت کي د بلاغت او فصاحت الهام ښښونکي اغيزمن قوت پروت و د عربو په فکر او ذهن باندي به يې ډير زور تاثير کاوه سازي خيره به يې چي له خولي راووتله په ډيره لږ موده کي به خوله په خوله ، سينه په سينه د عربو ډيري لري سيمي ته رسيدله .

که څه هم د حضرت محمد ﷺ د شخصيت په باب د غربي مؤرخينو نظر يې ډيري دي او هم نور زيات غـربي مؤرخين شته چي د اسلام د پيغمبر ﷺ په باب يې څيړني او ليکني کړي دي خو هغوي ټولو د حضرت محمد «ص» د شخصيت په ستر توب او رسالت باندي اعتراف کړي دي.

په محمدي مدرسه کي ښځينه ...

حيث فتواګاني ورکولي او د اصحابو مشکل ترين ستونزي او پوښتني بوازي او بوازي بي بي عايشي «رض» حل کولي، په تفسير، حديث د شريعت په اسرارو، خطابت ادب او د تـبوتو په فن کي د لوي لاس او پوره مهارت ميرمن وه د ادباو او شاعرانو اوږدي اوږدي قـصـيدي يې يادي وي، سيرة النبي دويم ټوك، ٣١٣مخ .

لوي خداي«ج» د هر مسلمان او عالم نارينه او ښځي درجي لوړوي، لکه چي فرمايي: « الله «ج» په تاسـو کي د هغـو کـسانو درجي لوړوي ، چي ايمان يې راوړي او هم د هغو کسانو چي علم ورکړل شـوي دي » د مجـادلي سوره ١١ ايت . په دغه مبارك ايت کي هم په ځرګنده ټولو مسلمانو نارينه وو او ښځـوته د پوهي، ښوونې او روزنې اهميت روښانه شوي او د زده کړي لارښوونه يې کيږي .

د همدغو الهي احکامو په رڼا کي د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد ﷺ موږ ټولو مسلمانانو ته داسي لارښوونه کوي » د پوهي او علم زده کړه په هر مسلمان سړي او ښځي باندي فرض دي » مشکوة شريف، ١٠٤ مخ . او يا دا چي بل ځاي فرمايي : « څوك چي د علم په طلب کي په يوه لار ولاړ الله تعالى به د هغه له پاره د جنت په لوري لاره اسانه کـړي » ترمـذي شـريف دويم ټوك، ١٨٢ -١٨٣ مخونه . حضرت محمد ﷺ چي د رحمت ، عدالت او علم ستر علمبردار و خپل امت ان په دي مکلف کوي چي ښځينه وينځو ته هم بايد ښوونه او روزنه ورکـړي . لکه چي فـرمايي « هر هغـه سـړي چي وينځـه ولري او هغه هغي ته ښوونه او روزنه ورکړي او ښه ادب او تهذيب ورزده کړي بيايي آزاده کړي او واده يې کـړي، نو هغـه لره دوه اجره دي » ښځـه په اسـلام کي، لومـړي ټوك ٩-١ مخ . دا دي په محمدي ښوونځي کي د ښځينه ښووني او روزني اصول، اړتياوي او هدفونه کوم چي د اسلام امارت په فرهنګي کړنلاره کي ځاي لري او انشاء الله د سولي او امنيت په تأمين سره به د محمدي ښوونځي په چوکاټ کي زموږ ښځينه ښوونه او روزنه بيا له سره پيل شي، د ښځي او مور غيږ د ماشومانو لومړني روزنتون او تدريس ځاي دي او د هغوي تر پښو لاندي جنت دي، پس اي ورونو راشي ، چي دا ښکلي روزنتون بيا له سره اباد کړو.

د کندهار پوهنتون رئيس محترم مولوى بخت الله «صاحبزاده» له شريعت ...

پوښتنه : د کندهار په پوهنتون کي محصلين په ليليه ډول درس وايي او که په نهاري ډول اوسيږي ؟

ځواب : په پوهنتون کي محصلين هم په ليليه ډول او هم په نهـاري ډول درس وايي چي ډير يې په ليليه ډول اوسـيږي او د ليليې په شمول کي څه اشکال نشته اوس تقريباً له ٢٠٠ څخه زيات محصلين ليليه دي.

پوښتنه : د کندهار پوهنتون په چوکاټ کي څو پوهنځي فعال دي او څو دوري فارغين مو ټولنې ته وړاندي کړيدي ؟

ځواب : د کندهار په پوهنتون کي فعلاً دوه پوهنځي چي عبارت له طب او کرهني څه دي فعال او دوه نور پوهنځي چي عبارت له شرعياتو او تاريخ او ادبياتو څخه دي، په تشکيل کي لري. تر اوسه پوري مو فارغين نه دي ورکړي په ايندة کال کي به انشـاء الله د طب د پوهنځي د لـمړي دوري محصلين فارغ شي.

پوښتنه : د لوړو زده کړو له وزارت سره مو اړيکي شته او که نه ؟ او ستاسو اداري ، اقتصادي او نوري ستونزي څوك پوره کوي ؟

ځواب : د کندهار پوهنتون د افغانستان د اسلامي امارت د نورو پوهنتونونو په څير د لوړو زده کړو د وزارت په چوکاټ کي په داخل او خارج کي رسمي حيثيت لري ، د پوهنتون ټول پروګرامونه د وزارت له خوا او د هغوي په مشوره سره رسمي او اداري او اقتصادي ستونزي د وزارت او د کندهار ولايت له خوا حل کيږي .

پوښتنه : د پوهنتون وداني مو جوړه ده او که زيان ور رسيدلي دي او آيا د ترميم لپاره يې تاسو له چاسره ارتباط نيولي دي ؟

ځواب : تر اوسه د پوهنتون لپاره مستقل او مشخص تعمير نه وو خو د مستقل تعمير د جوړېدو لپاره کار روان دي ، اسلامي امارت به انشاء الله ډير ژر دا وداني جوړه کړي او د ترميم لپاره مو تر اوسه له خارجي موسسـاتو سره ارتباط نه دي نيولي .

پوښتنه : سږ کال مو څومره محصلين جذب کړيدي او کانکور څرنګه واخستل شو ؟

ځواب : د سږني تعليمي کال (١٤١٩ هـ ق) لپاره موږ تقريباً په دواړو پوهنځيو کي د ٨٠ تنو په شاو خوا کي محصلين جذب کړي او د کانکور امتحان لوړو زده کړو د وزارت له خوا هم په مرکز او هم په ولاياتو کي د ټولو پوهنتونو لپاره په ګډه واخيستل شو چي دلته په کندهار کي هم موږ د کانکور ازموينه واخيستله او بيا مو نتيجي وزارت ته ولېږلي کامياب محصلين د وزارت له طرفه موږ ته را معرفي کيږي .

پوښتنه : آيا کوم بهرني پوهنتون د سکالرشپ وعده له تاسو سره کړيده ؟

ځواب : تر اوسه پوري کوم بهرني ملك او پوهنتون له موږ سره مستقيماً د کوم سکالرشپ وعده نه ده کړي او نه مو په دي باب له چا سره کوم تماس نيولي خو په ايندة کي اميد شته او د عالي تحصيلاتو له وزارت سره وعدي شوي چي د هغوي له لاري کيداي شي دا پوهنتون هم له سکالرشپ څخه برخمن شي.

والسلام

د شريعت تبصره

اطاعت کامل سنت نبوي ﷺ :

نحوه احسن تجليل مولود مسعود حضرت سرور کائنات است

دوازدهم ربيع الاول يکي از پر فيوض ترين ايام تاريخ است در اين روز نوريکتا پرستي و سعادت بر همه جهان تابيدن گرفت و پرده هاي ظلمت و جهل از گيتي يکسره دريد و جاي کليه اعمال و رسوم آئين قهقرايي جهالت را عقيده وحدانيت و سجاياي اخلاق نيك مشحون ساخت ، اين روز متبرك که مصادف با تولد مبارك حضرت ختم المرسلين محمد مصطفى ﷺ است از بزرگترين اعياد امت اسلامي و مفاخر بشريت در روي کره خاکي ميباشد . خاموش شدن شعله، هاي چندين هزار ساله آتشکده زردشت در فارس و سرنگون گرديدن ناگهاني بتهاي خانه کعبه که از اولين علايم معجزات حضرت ختم المرسلين ﷺ بود از آوان تولد مبارك شان به مؤمنان و شيفته گان اسلام نويد تابناك و به دشمنان (ناگرويدگان)ازانګخطرجدي تلقي گرديد.

با تولد مبارك آنحضرت ﷺ و ظهور دين مبارك اسلام دروازه هاي سعادت و نجات به روي بشريت و کاروان سرگردان و گمراه انسانيت گشوده شد و در فراز راه جوينده گان حق مشعل جاويدانه اي که الي روز قيامت تابان است متجلي گرديد.

سرور کاينات ﷺ در عمر چهل سالگي به پيغمبري مبعوث گرديده و به هدايت بشريت مامور شدند و در مجموعه، (٢٣) سال عمر گرانمايه شان بزرگترين و کامل ترين شريعت و قانون را براي امت و بشريت به ارمغان آورد و کتاب و سنت را دو دستاويز قوي ووسيلةنجات بشريت ازخودبجاگذاشتند.

مسلمانان جهان دوازدهم ربيع الاول را منحيث بزرگترين اعياد (عيد ميلاد النبي ﷺ) جشن ميگيرند البته روشن است که جشنواره مسلمانان از لحاظ کيفيت و اوصاف عيني و ذهني مشابه به اعياد پيروان مذاهب ديگر نبوده و هيچگاهي در پيروي از خواهشات نفس و شيطان صورت نگرفته است بلکه اين يوم فرخنده با قرباني ها ، صدقات و تدوير محافل ذکر ، ختم هاي قران عظيم الشان و مجالس تشريح فضايل و سجاياي حضرت محمد مصطفى ﷺ تجليل گرديده و از اوصاف عبادات آن حضرت ﷺ ، شجاعت و پايمردي شان، صبر و حلم وي، همت و صلابت و بالاخره اخلاق حميده و گفتار جذاب اش ياد دهاني و تذکر بعمل آمده و محافلي به اشتراك هزاران تن از مسلمانان در هر گوشه و کناري از روي زمين منعقد ميگردد . نکته اي که خيلي قابل ارزش و فهم ميباشد اينست تا دانسته شود که محض با اشتراك در محافل تجليل ميلاد مبارك و يا به زبان آوردن اوصاف خجسته آن حضرت ﷺ حق تجليل و بزرگداشت اين روز مبارك ادا ، نميگردد بلکه زماني ميتوان ادعا نمود ما از مقام عاليقدر ختم النبوت ﷺ تجليل بعمل آورده ايم که مطابق به هدايت و فرامين آن حضرت ﷺ اعمال و افعال ، عقايد و نظريات ، عبادات و معاملات خويش را مزين سازيم زيرا دين مبين اسلام که با ميلاد مبارك حضرت محمد مصطفى ﷺ و در نتيجه جهاد ، مبارزات و شهادت صد ها هزار تن مسلمان در اطراف و اکناف جهان پرتو افگني کرده و خون پاك صد ها هزار تن از بهترين بندگان خدا«ج» در روي کره زمين به منظور تحکيم و تطبيق اين دين مقدس جاري گرديده است رايگان و هيچ دستاورد عصر و زمان به ما به ميراث نرسيده است . پس تجليل از ميلاد پيغمبر عزيز اسلام به معني اينست که اين روز ، روز تجديد عهد مسلمين جهان با خالق و پروردگارشان ميباشد و در اين روز يکبار ديگر اين تعهد مسلمانان که همه هستي و نيستي مسلمان، حيات و مرگ مسلمان و انواع عباداتش خاص به منظور رضاي خداوند بوده، در اين رمستا به زندگي خود ادامه ميدهد تجديد و قوي ميگردد . مسلمان بايد در اين يوم مبارك با خالق بي نياز خود وعده نمايد که شکران نعمت بي مثال اسلام و تابعيت پيغمبر آخر زمان را در همه احوال به جا آورده و در راه پخش و نشر و تعميل و تعميم احکام اين دين مقدس از هيچنوع ايثار و تلاش دريغ نميورزد به صورت فشرده تر ميتوان گفت که اطاعت کامل احکام الهي و سنت نبوي نحوه احسن تجليل مولود مسعود حضرت سرور کاينات است نه صرف تدوير محافل نمايشي و رسومي. پس هر مسلمان که ادعاي زياد اداي حق و تجليل روز ميلاد را زمزمه ميکند بايد بيشتر از همه پا بند تر به اساسات و موازين شريعت غراي محمدي ﷺ بوده و با فداي همه هستي ها و استعداد خويش در راه تطبيق کامل احکام دين مقدس اسلام زندگي خويش را بسر رساند يقيناً اجر بي حساب الهي نيز نصيب آنان است که ميگويند و به آن عمل مي کنند. بدون شك آنهاييکه در ظاهر امر اقاويل خود را رحجه، مشروعيت و پيرو اصيل دين حق ميدانند و در باطن و صحنه عمل مخالف آن حرکت و معامله ميدارند در نفي قرار دارند و در واقعيت هيچگاه به مدارج عالي موعود الهي نخواهند رسيد.

SHARIAT WEEKLY
Published by
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlat Printing Press

يادونه

ښايي ستاسو ايمان به اجازه ورنکړي چي دا ډول سپيڅلي پاڼي په ناوړو ځايونو کښي وغورځوي.

د ګڼون بيه له هيواد نه بهر

ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150